# کله چې انسان مړ شي نو عمل يې قطع کيږي پرته له درېو څېزونو څخه: جاريه صدقه، علم چې ګټه ترې اخېستل کيږي، او صالح اولاد چې دعا ورته وکړي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "کله چې انسان مړ شي نو عمل يې قطع کيږي پرته له درېو څېزونو څخه: جاريه صدقه، علم چې ګټه ترې اخېستل کيږي، او صالح اولاد چې دعا ورته وکړي".
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د مړي عمل د هغه په مرګ سره پرې کيږي نو له مرګ وروسته ورته نيکي نه رسيږي مګر په دې درېو څيزونو: ځکه چې دی د همدې درې واړو لامل و: لومړی: صدقه چې ثواب يې دوامداره وي او نه پرې کېږي لکه وقف، جومات جوړول، د څاګانو کېندل او داسې نور. دوهم: هغه علم چې خلکو ته يې ګټه رسيږي لکه: د علمي کتابونو تاليف، يا دا چې يو چاته يې علم ښوده، نو هغه شخص يې له مرګ وروسته علم نشروي. دريم: مؤمن او صالح اولاد، چې خپل مور او پلار ته دعا کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65566